مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۹/۱۲

# په کندهار کې د رسنیو ۱۰۰ کلن بهیر

نړیوال مطبوعاتیان د ټولني په ویښتیا کي لومړی ګام رسنی ګڼي او په دې اړه د مطبوعاتو یوکارپوه څه ښه ویلي دي:

«هر حکومت، چي ښه مطبوعات ولري، هغه بندیخانو ته اړتیا نه لري.»

اوسمهال له ښه مطبوعاتو څخه موږ « مسلکي» معني اخیستلای سو او دا تر لمر سپینه خبره ده، چي مسلکي مطبوعات یا رسنی په یوه ټولنه کي د مسلکي معلم په څېر نالوستي کسان د زده کړو په خوند او ارزښت پوهوي .

د همدې اړتیا له مخي مولوي صالح محمد هوتک، چي په کندهارکي د ښووني او روزني پلار ګڼل کېږي په دغه ولایت کي د پوهني دوړانګو ځلولو ترڅنګ له نن څخه سل کاله ترمخه د ۱۳۰۰ل کال د چنګاښ اود ځینو په وینا د تلي میاشتي پر ۱۵ نېټه د اول وار لپاره په کندهار کي د طلوع افغان اخبار له لاري د خلکو د ذهنونو د روښانولو دروند خو ګټور کار ته ملا وتړله .

مولوي صالح محمد، چي ځیني لیکوالان یي په خپلو لیکنو کي د هوتک پرځای په (کندهاري ) هم راپېژني د خپلي ژوري پوهي پر بنسټ په دې خبره ښه پوهیدئ، چي یوه ټولنه بیله مطبوعاتو هیڅ وده څه، چي ان راتلونکی یې په تروږمیو کي پټ دی، نو ځکه یې یوازي د طلوع افغان پر خپرولو بسنه ونه کړه، بلکي د هغه کیفیت ته یې هم خپله پاملرنه زیاته کړه .

مولوي صالح محمد هوتک د خپل وخت تکړه لیکوال، ملي شاعر او په ټولنه کي منلی سړی ؤ .

د طلوع افغان اولي ګڼي دوه مخونه، په ځینو وختونو کي بیا پر ځلورو مخونو د وخت او حالاتو سره سم په لویه او کوچنی کچه خپور سوی دئ .

طلوع افغان اخبار اول کال هره دچهارشنبي ورځ له چاپه راوتی، خو دا چي مولوی صالح محمد په کندهارکي د ښووني او روزني په کارونو ډېر اخته ؤ، نو د طلوع افغان اخبار چاري یې خپل نژدې مطبوعاتي دوست (بابا عبدالعزیز) ته چي اصلي نوم یې عبدالعزیز الکوزی ؤ ور وسپارلي .

بابا عبدالعزیز د( ۱۳۰۱ل) کال په وري میاشت کي د طلوع افغان مسؤل مدیر سو .

نوموړي د اخبار د چاپ ورځ د چهارشنبي پرځای د اوونی لومړۍ ورځي ( شنبې) ته واړوله

هغه تردې وړاندي په کابل کي د ماشین خاني په مطبعه کي د خطاطی او تصحیح مسلکي کس ؤ .

بابا، تر ۱۳۰۹ ل کال پوری د طلوع افغان مسؤل مدیر پاته سو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په هغه وخت کې د طلوع افغان کلیشه داسې جوړه سوې وه: د طلوع افغان تر نامه لاندی د غنمو وږي د هغه تر شا د لمر وړانګې، لاندې دوې توري د چلیپا په شکل لیدل کېدې .

په اول سر کې د طلوع افغان ډېره برخه درې او یو لږ اندازه یې پښتو مضامین چاپول، خو په (۱۳۱۰ل) کال کې، چې لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي (رح) د اخبار مسؤل مدیر سو، نو د کندهاریانو په غوښتنه یې په یو کال کې ټول اخبار ځکه پښتو ژبې ته واړوی، چې په کندهارکي غټ اکثریت پښتانه دي .

طلوع افغان د پښتو ژورنالیزم په تاریخ کي لومړی دولتي اخبار دی، چې یومخ په ملي ژبه (پښتو) چاپېدئ .

که د طلوع افغان اخبار د هغه مهال کلیکسیونونه ولوستل سي، نو له ورایه ښکاري، چې د دې تاریخي جریدې په هره ګڼه کې پر ادبي، انتقادي او سیاسي تبصرو سربېره د دولت تبلیغ، تاریخي لیکني، خبرونه، نظام نامې، خبرتیاوې، او نور مهم مطالب لوستونکو ته وړاندې سوي دي .

ویل کېږي، چې دوهم نړی وال جنګ (۱۹۳۹م – ۱۹۴۵م ) طلوع افغان اخبار د کاغذ له کمښت سره مخامخ کړ، نو ځکه یې خپله لمن ( کچه ) ۲۱×۳۴سانتي مترو ته راکښته کړله .

طلوع افغان په( ۱۳۲۲ل) کال که څه هم په کوچنۍ کچه خپرېدی، خو له نیکمرغه په همدغه کال (ورځپاڼې) ته واوښت، چې هرسهار به یې د لوستونکو تنده ماتوله .

د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کي طلوع افغان د خپل سل کلن بهیر په دوران کي له خورا ډیرو لوړو او ژورو سره مخامخ سوی دئ .

په( ۱۳۰۸ل )کال د سقاویانو د نهه میاشتنۍ توري دورې پرمهال دطلوع افغان خپروني یو لږ وخت په ټپه ودرېدې او تر یوڅه ځنډ وروسته یې د طلوع افغان پرځای د ( مؤید الاسلام) په نامه خپروني شروع کړې، مګر هغسي اغیزمني نه وې .

د سقاویانو له ماتي وروسته طلوع افغان بیا وځلیدئ، چې د نورو پیاوړو مضامینو ترڅنګ یې د وطن د بیا جوړوني لپاره هم مضامین خپرولو ته دوام ورکړ .

په اکثرو وختونو کي خورا معتبر او د پاخه قلم لرونکي کسان لکه ( لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي، مولانا قیام الدین خادم، محمد ابراهیم عطایي، اغامحمد کرزی، محمد ولي ځلمی، غلام محی الدین ایوبي، محمد شاه ارشاد او نور...) مسؤل مدیران پاته سوي دي، چې د طلوع افغان په لمن کي د هریاد مخور قلموال راپاته لیکني زموږ لپاره خورا مغتنم ماخذونه دي .

د طلوع افغان یوه بله مهمه ځانګړتیا داوه، چې د پخو مضامینو ترڅنګ یې د وېش لړۍ هم خورا منظمه او ان له هیواد دباندي لاهم پر ټاکلي وخت مشترکینو ته رسیدئ .

په وروستیوانقلابي نظامونو کي یوازي د حضرت صبغت الله مجددي او برهان الدین رباني( ۱۳۷۱ل – ۱۳۷۵ل)د واکمنیو پرمهال نه یوازي دغه تاریخي اخبار له چاپه پاته سو، بلکي ټول اطلاعات اوفرهنګ ریاست د نورو دولتي ادارو په ډول په یونظامي اتاق بدل سوي ؤ .

د طالبانواسلامي امارت د واکمنی پرمهال ( ۱۹۹۶م – ۲۰۰۱م) یو وار بیا طلوع افغان اخبار او پرکندهار تاریخي مجلې سربېره (خلافت مجله)، (ارغند) ادبي پنځلس ورځنۍ جریده او یوڅو نوري مجلې په انګلیسي او عربي ژبو هم له کندهاره خپرېدلې، چې له ( ارغند) ماسوا د نورو چاپي مطبوعاتو ډېره برخه د اسلامي امارت پرمختګونو ته ځانګړې سوې وه .

دطالبانو د اسلامي امارت تر ړنګېدو وروسته د نوی اداري په رامنځته کیدو(۲۰۰۱م) سره دامریکا او نړېوالو انډیوالوالانولوی شعار د (بیان ازادي) وه، چې ددغه شعار پر بنسټ په هر ولایت کي پرسیمه ییزو راډیوګانو او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ټلويزيونونو سربيره بې شماره چاپي مطبوعاتو ته د خلکو پام واوښت، که څه هم دايو ښه کار ؤ، خو له بده مرغه د ځنګه والي پر ځای يې يوازې پر ځومره والي په زرهاوو امريکايي ډالر مصرف سول .

په( ۲۰۱۴م) کال له افغانستان څخه د نړېوالو ځواکونو د وتلو له اوازو سره سم په هيواد کي د نورو چارو ترڅنګ په رسنيز ډګرکي د چاپي مطبوعاتو تود بازار داسی سوړ سو، چي اکثره چاپي رسنۍ يومخ په ټپه ودرېدلي، ځکه ډېری دغسي مطبوعات يوازي د مالي ملاتړ پر مرستو تکيه او راتلونکي ته يې د پايښت پلان نه درلود .

په کندهارکي هم د هيواد د نورو ولايتونو په ډول د چاپي مطبوعاتو بازار تقريبا له سقوط سره مخامخ سو، خو راډيوګاني لا د مطلق اکثريت مفتو کاركوونكو د سر په صدقه(!) تراوسه چالاني دي .

درنو لوستونکو که مو خوښه وي لومړی به د هغو رسنيو په اړه لنډ معلومات وړاندي کوو، چي اوس هم په چاپي، ږغيز او تصويري بڼه په کندهارکي نشرات لري او بيابه د سقوط سويو چاپي مطبوعاتو يو ليسټ هم له تاسودرنو لوستونکو سره شريک کړو .

## چاپي مطبوعات

### الف – مجلې

#### ۱ – پښتو مجله

په ۱۹۳۲م کال په کندهارکي ادبي انجمن تاسيس سو .

ادبي انجمن يوکال وروسته په( ۱۹۳۳م) کال د جنورئ په مياشت کي د (پښتو) په نامه د يوی مجلي خپرولو ته لستوني راپورته کړل .

محمد عثمان خان بارکزی، د ادبي انجمن د مسؤليت ترڅنګ د (پښتو) مجلې مسؤل مديرهم ؤ .

پښتو مجله ډېره لويه نه وه، خو بيايې هم پر کندهاري ليکوالانو سربيره د هري پښتني سيمي د ليکوالانو مضامين هغوي په لهجه خپرول .

عبدالباري جهاني په دې اړه په يوه مقاله کي داسي ليکي:« پښتو مجلې ۱۲ ګڼي خپرې کړې، چي په وروستۍ ګڼه کي يې د نادرخان د مرګ اود هغه د مريني په اړه دوی مرثيې هم نشر کړي او بيا له چاپه لوېدلې ده ».

#### ۲ – کندهار مجله

کندهار مجله په پيل کي د ( اركوزيا) په نامه خپرېدله.

دغه مشهوره مجله په ۱۳۳۹ ل کال د هيواد د پيژندل سوي ليکوال او څېړونکي محمد ولی ځلمي په هڅو تاسس سوې ده .

کندهارمجلې د دې سيمي د کلتوري او تاريخي موضوعګانو په غوړولو او څېړولو کي تر نيمه پيړی ډېر وخت داسي منظم او کره کارکړی دی، چي هره مقاله يې اوسمهال د باوري ماخذ په ډول کاريږي .

محمد ولي ځلمی، اغا محمد کرزی، عبدالکريم طالب، عبدالحی مطمين، محب الله اسحاقي، عبدالمجيد بابی، عبدالقديم پتيال او يوشمير نورمخورکسان په بيلا بيلو وختونو کي ددې مجلي مسؤل مديران پاته سوي دي .

دا مجله هم د کندهار د اطلاعات اوفرهنګ رياست خپرنيز ارګان دی، چي اوس په دوې مياشتي کي يو وار د محمد نبي سلطاني په مسؤل مديريت اود کتنپلاوي تر څارنه لاندي خپريږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د اړيکي شمېره : ۰۷۰۰۳۲۳۴۷۶

برېښنا ليک kandaharmagazine@gmail.com :

**۳ ــ منديګک مجله**

منديګک مجله د کندهار پوهنتون دعلمي معاونيت ، د عامه پوهاوي او اړيکو امريت د علمي مجلې مديريت لخوا تحقيقي او علمي دري مياشتنۍ مجله ده .

دمنديګک علمي او تحقيقي مجلې لومړۍ ګڼه په ( ۱۳۹۴ل) کال د کب مياشت کي له چاپه راوتلې ده .

په دغه مجله کي د کندهار پوهنتون د بيلا بيلو استادانو اکثريت ټولنيزي او ادبي علمي مقالي خپرېږي .

د مخونو شمېر يي تر ۱۶۰ زيات او کچه يي ۷،۶ ×۱۰،۴ ټاکل سوي ده .

د منديګک مجلې مسؤل مدير پوهنيار سيداحمد قانع دئ

او مهتمم مدير يې نقيب الله سردار نوميږي .

د اړيکي شمېره : ۰۷۰۰۳۰۳۲۵۱

**۴ ــ بنېګنه مجله**

دا علمي دوې مياشتنۍ مجله له تيرو ۲ کالو راهيسي (۱۳۹۷ل) د کندهار پوهنتون په چوکاټ کي د پاچاخان څېړنيزمرکز په امتياز خپريږي .

د بنېګني مجلې اکثره مضامين د تشدد په وړاندي مبارزه منعکسوي او ډېرمضامين يې د سولي او ټولنيزو بنېګنو پر محور راڅرخي .

استاد نعمت الله امير زاده، د بنېګني مسؤل مدير دی .

اړيکي: ۰۷۰۰۲۲۷۶۹۹

برېښناليک: نه لري

**۵ ــ نارنج مجله**

نارنج مجله د کندهار پوهنتون دعلمي معاونيت ، د عامه پوهاوي او اړيکو امريت د علمي مجلې مديريت لخوا تحقيقي او علمي دري مياشتنۍ مجله ده .

دنارنج علمي او تحقيقي مجلې لومړۍ ګڼه په ( ۱۳۸۱ل) کال له چاپه راوتلې ده .

په دغه مجله کي د کندهار پوهنتون د بيلا بيلو استادانو اکثريت ساينسي، ديني او نور ي بېلا بېلي علمي، څېړنيزي مقالي خپريږي .

د نارنج مجلې مسؤل مدير پوهنيار نثاراحمد اريا دئ

ياده مجله تر يوسلو پنځوس پر زياتونو مخونو خپريږي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د اړيکي شمېره : ۰۷۰۰۳۲۶۷۵۸

**۶ – پانګه**

پانګه د (کندهار د صنايعو او معدنونو خوني) رياست دری مياشتنی رنګينه مجله ده، چي لومړۍ ګڼه يې د ۱۳۹۸ل کال د مرغومي مياشتي پر لومړۍ نېټه له چاپه راوتلې ده .

پانګه د ياد رياست پر لاسته راوړونو سربېره د کندهار په سطحه اقتصادي خبرونه، راپورونه او مضامين هم خپروي .

د پانګي مؤسس نعمت الله نعمت او مسؤل مدير يې عطاء الله بريالی دئ.

برېښناليک:kmcim.kdr@gmail.com

د اړيکي شمېره: ۰۷۱۱۱۱۱۷۴۳

**۷ – تعليم الاسلام مهالنۍ مجله**

د يادي مهالنۍ مجلي لومړۍ ګڼه د ( ۱۳۸۹ل) کال په حمل مياشت کي پر ۳۰ مخونو خپره سوې ده .

ياده مهالنۍ ټول ديني اوټولنيز مضامين خپلو لوستونکو ته وړاندي کوي .

د امتياز څښتن او مسؤل مدير يې مولوي محمد عمر خطابي دئ .

د اړيکي شمېره : ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

**۸ – عينو مينه مجله**

دا خپلواکه، کتلوري او ټولنيزه مجله ده، چي په ۲ مياشتو کي يواري په رنګينو پاڼو او ښه صحافت د افکو کمپنۍ په امتياز د ۱۰۰۰ ټوکو په تيراژ خپرېږي .

عينو مينه مجله په ( ۱۳۹۴ل ) کال تاسس سوې ده .

مؤسس يې مرحوم محمد هاشم کرزی او مسؤل مدير يې رحمت الله دلسوز دئ .

په دې مجله کي د اسلامي ،کلتوري، ټولنيزو او ادبي مضامينو سربېره د ( عينو مينې) د پرمختګونو په اړه هم مضامين خپرېږي .

د اړيکي شمېره : ۰۷۰۰۳۰۵۰۸۸

وېبپاڼه: www.aynomaina.com

**ب – اوونيزي او جريدې**

**۱ – طلوع افغان جريده**

طلوع افغان ښېيره يوه پيړۍ ترمخه ( ۱۳۰۰) ل کال د چنګاښ مياشتي پر ۱۵مه نېټه د هغه وخت دمشهور ليکوال، تکړه شاعر او د پوهني د رښتيني مبارز مولوي صالح محمد کندهاري په مسؤل مديريت خپرنيزي چاري شروع کړې .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په اول سرکي دغه اخبار اکثره په دري بيا په پښتو او دري او بالاخره د لوی استاد علامه عبدالحي حبيبي د مسؤل مديريت پر مهال (١٣١١ل) طلوع افغان يومخ پښتو سو .

له همدې امله د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي طلوع افغان لومړنۍ دولتي پښتو ورځپاڼه ياديږي .

طلوع افغان په تيرو ١٠٠ کلونو کي ډيري لوړي او ژوري ليدلي دي، چي ځيني وخت هره ورځ، ځيني مهال په هفته کي يو وار يا دوه واري او ځيني وخت داسي هم راغلی دی، چي په هيواد کي د سياسي ګډوډۍ له امله څو کاله پرله پسي له چاپه لوېدلی دی .

طلوع افغان د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست نشراتي ارګان دی، چي اوس په هفته کي دوه واره (شنبه او سه شنبه ) خپرېږي .

اوسمهال طلوع افغان په خپله لمن کي د سيمي او هېواد پر خبرونو سربيره روزنيز ، اخلاقي، علمي، مذهبي او ادبي مسايل نشروي .

داړيکي شمېره : ٠٧٠٦٤٧٩٨٦٤

برېښناليک afghan.tolo@yaoo.com :

### ٢ – ټاټوبی اوونيزه

ټاټوبی اوونيزه خپلواکه سياسي، ټولنيزه او کلتوري چاپي خپرونه ده، چي په( ١٣٨٨ل) کال يي لومړۍ ګڼه له چاپه راووتلې ده .

اوس هم ياده اوونيزه هره اوونۍ په اتو رنګه مخونو له چاپه راوزي .

د ټاټوبي مسؤل اود امتياز څښتن عبدالحليم حلميار دی
د اړيکي شمېره: ٠٧٩٥٨١٠٠٨٣
برېښناليک tatobay@gmail.com

### ٣ – اثر اوونيزه

دا ، خبري، سياسي، ادبي او ټولنيزه چاپي اونيزه ده، چي په (١٣٩٣ل) کال يي په کندهارکي نشراتي چاري پيل کړي دي .

اوس هره اوونۍ پر اتو مخونو له چاپه راوزي.

د امتياز څښتن يي عبدالسميع غيرتمل او مسؤل مدير يي عطاء الله بريالی دی .

په اثر کي هم پر کلتوري، ټولنيزو او ادبي مضامينو سربيره سياسي موضوعګاني خپرېږي .

د اړيکي شميره : ٠٧٠٠٣٠٦١٧٦

برېښناليکasarweekly.kdr@gmail.com :

### ۴ – افغان اوربند اوونيزه

افغان اوربند اوونيزه خپلواکه سياسي، ټولنيزه او کلتوري چاپي خپرونه ده، چي هره اوونۍ پر٨ مخونوله چاپه راوزي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا اوونيزه د کندهار د ازادو ژورناليستانو مرکز په امتياز دري کاله ترمخه ۱۳۹۶ل کال تاسس سوې ده .

ددې اوونيزې مسؤل مدير احمد لودين دی .

د اړيکي شميره : 0700308275

برېښناليک orband.weekly@gmail.com :

### ۵ – احمدشاهي ارګ

سياسي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي اوونيزه ده، چې په کال ( ۱۳۹۹ل) کي يي همدلته په کندهارکي نشراتي فعاليت شروع کړی دئ .

احمدشاهي ارګ تر نورو اوونيزو په لويه کچه د جان محمد صالح په مسؤل مديريت پر اتو مخونو هره شنبه له چاپه راوزي .

د يادي اوونيزي د امتياز څښتن محمد مقصود ضمير او مرستيال رحمت رشيد نوميږي .

د احمدشاهي ارګ لومړی او اتم مخ رنګين خپرېږي .

## ټلويزونونه

### ۱ – کندهار ملي ټلويزيون

کندهار ملي راډيو تلوېزيون، مخکي د کندهار اطلاعاتو اوفرهنګ رياست امريت ؤ.

ويل کيږي دغه ټلوېزيون د ډاکټرنجيب الله د واکمنی پرمهال نشرات پيل کړي دي.

اوس دغه ټلويزون د هيواد د نورو ولايتونو د ټلويزيونونو په ډول په کابل کي د ملي راډيو ټلويزيون د لوی رياست تر چتر لاندي فعاليت کوي .

کندهار ملي ټلويزيون هم د نورو ولايتونو د ټلويزونونو غوندي له سهاره تر ماښامه په مرکز کابل کي د ملي ټلويزيون خپروني ريلي کوي او دلته يوازي پر سيمه ييزو خبرونو سربيره د ګوتو په شمار خپروني لري .

د اړيکي شمېره : ۰۷۰۰۳۰۴۶۱۲

### ۲ – هيواد ټلويزيون

هېواد ټلوېزيون په کندهارکي لومړی خصوصي ټلوېزيون دئ .

ددغه ټلوېزون د امتياز څښتن (افغانان د مدني ټولني لپاره ) يوه غيري دولتي مؤسسه ده .

هيواد ټلوېزيون په ۲۰۰٦ کال په کندهاربنارکي خپل نشرات شروع کړل .

ددغه ټلوېزيون خپروني د سهار له ۶ بجو څخه بيا د شپې تر ۱۲ بجو پوري دوام لری .

هيواد هره ورځ پر ټولنيزو، تفريح خپرونو سربيره خبري ساعتونه او سياسي خپروني هم لري .

اړيکي شميره : ۰۷۰۰۳۱۱۳۶۱


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولــئ

### ۳ – ژوندون ټلويزيون ( کندهار څانګه)

دغه ټلويزيوني څانګه له ۱۳۹۶ل کال راهيسي په کندهارښارکي خپروني کوي

ياد ټلويزيون د سهار له ۷ بجو څخه د شپي تر ۱۲ بجو پوري نشرات لري .

يوشمېر خپروني په کندهارکي جوړوي، خبرونه او ډېرى خپروني د ژوندون ټلويزن له مرکزي ستوډيو( کابل) څخه ريلی کوي .

په کندهارکي يې مسؤل جاويد اغا دی

د ټيليفون شميره : ۰۷۰۰۳۱۴۷۰۶

## راډيوګاني

### ۱ – کندهار ملي راډيو

کندهار ملي راډيو له ډېره وخته يوازي په کندهارښارکي د کابل خپروني ريلي کولي، د ځينو معلوماتو له مخي په ( ۱۳۵۸ل) کال کي کندهار راډيو محلي نشرات پيل کړي دي .

يادي راډيو په پيل کي دوه ساعتونه د سهار او ۴ ساعته د ماښام لخوا خپروني کولي .

د جمعي په ورځ به يې د سهار لخوا تر ۱۲ بجو پوري اکثره ځانګړي تفريحي خپروني درلودې .

اوسمهال کندهار ملي راډيو اوس د سهار له ۷ بجو څخه بيا د شپي تر ۱۰ بجو پوري ټولنيزې، سياسي، تفريحي او معلوماتي خپروني وړاندي کوي .

دغه راډيو پر دوو فريکونسيو (۲/ ۱۰۵اف ام ) او ( ۱۳۰۵ کيلو هرتز اي ام) نشرات لري .
د اړيکي شمېره: ۰۷۰۰۳۰۴۶۱۲

### ۲ – هيواد راډيو

هيواد راډيو، چي مخکنی نوم يې (افغان ازاده) راډيو ؤ په کندهارکي لومړنی خپلواکه خصوصي راډيو ده .

دهيواد راډيونشرات په ۲۰۰۳م کال د استاد محمد اسماعيل تېمور په مسؤل مديريت شروع سول، چي خورا ډېر اوريدونکي يې درلودل .

د يادي راډيو د امتياز څښتن ( افغانان د مدني ټولني لپاره ) يوه غيري دولتي ټولنه ده .

دغه راډيو پر تفريحي او ټولنيزو خپرونو سربېره هرساعت لنډ خبرونه او سياسي خپروني هم لري .

د هيواد راډيو خپروني سهار له ۶ بجو څخه د شپي تر ۱۲ بجو دوام لري .

اوسمهال د هيواد راډيو ټلويزيون عمومي مسؤل صديق الله خليق دی .

فريکونسي : ايف ام ۸۸

اړيکي شميره : ۰۷۰۰۳۱۱۳۶۱


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

### ۳ – وړانګه راډيو

وړانګه په کندهارکي لومړی شخصي راډيو ده، چي په( ۲۰۰۹م) کال يي د محمدابراهيم سپېڅلي په مسؤل مديريت نشرات پيل کړل .

ددې راډيو د امتياز څښتن عبدالسلام کاکړ دئ .

اوسمهال وړانګه راډيو اکثره تفريحي خپروني لري، چي نشرات يي د سهار له ۷ بجو څخه بيا د شپې تر ۱۰ بجو دوام لري .

فريکونسي: ۲/ ۹۵ اف ام
د اړيکي شمېره: ۰۷۰۰۳۰۰۱۷۰

### ۴ – مېړمن راډيو

مېرمن په کندهار کي لومړنۍ ښځينه راډيو ده .

يادي راډيو په ( ۲۰۱۱م) کال خپل نشرات شروع کړل

د دې راډيو لومړی چاري هم محمدابراهيم سپېڅلي راپيل کړی.

مدني فعاله مريم درانی د دې راډيو د امتياز څښتنه او روح الله عادل يي نشراتي مسؤل دئ .

دغه راډيو د سهار ۷ بجو څخه بيا د شپې تر ۱۲ بجو پوري بيلا بيلي تفريحي، ټولنيزي او يوه اندازه سياسي خپروني هم لري .

فريکونسي: ۸/ ۸۸ اف ام

داړيکي شمېره :۰۷۷۸۸۹۹۰۷۲

### ۵ – کندهارکليد

کندهار کليد راډيو په( ۲۰۰۷م)کال په کندهارکي خپروني پيل کړی .

دغه راډيو تر ډېره د کليد ګروپ لخوا، چي مرکز يي په کابل کي دی اداره کېږي .

اوسمهال يي په کندهارکي اسدالله حکيمي مسؤل مدير دئ .

کندهارکليد راډيو ٢٤ ساعته خپروني لري، چي سيمه ييز، سياسي، ټولنيز او ښووني مسايل خپروي.

فريکونسي: ۸۹/۴ اف ام
د اړيکي شمېره: ۰۷۰۳۰۲۰۶۱۳

### ۶ – ځانګه راډيو

يادي راډيو په ( ۲۰۱۲م) کال د قدرت الله کليوال په امتياز اود اغا شېرمنار په مسؤل مديريت نشرات شروع کړل .

ځانګه راډيو ټولنيزې، سياسي او تفريحي خپروني لري .

د دې راډيو نشرات د سهار له ۷ بجو څخه بيا د شپې تر ۱۲ بجو پوري دوام کوي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اوس د ځانګي راډیو عمومي مسؤل اغاشیرمنار اود نشراتو مسؤل یې ظاهرفولاد دی.

فریکونسي: ۳/ ۹۲ اف ام
د اړیکي شمېره: ۰۷۰۳۶۹۰۶۲۷

**۷ – تعلیم الاسلام ولسي راډیو**

تعلیم الاسلام په کندهار کي لومړنۍ داسي راډیو ده، چي ټولي خپروني یې ديني مسایلو ته ځانګړي کړي دي .

تعلیم الاسلام ولسي راډیو په( ۱۳۸۷ل) کال د غوايي میاشتي پر ۱۳مه نېټه دمولوي محمد عمر خطابي په امتیاز نشرات پیل کړل .

ددغي راډیو خپروني اوس پر کندهار ښار سربیره په هلمند، روزګان، زابل او یوڅه وخت په ننګرهار کي هم ریلي کیدلي .

دتعلیم الاسلام ولسي راډیو خپروني د سهار له ۷ بجو څخه د شپي تر ۱۰ بجو پوري دوام لري ،خو د انټرنیټ پر ځپو په ټوله نړۍ کي ۲۴ ساعته خپرېږي .

فریکونسي: ۷/ ۸۹ اف ام
د اړیکي شمېره: ۰۷۰۰۳۰۰۵۷۰

**۸ – تعلیم القران راډیو**

دغه راډیو په کندهارکي د حمادیه مدرسي اودارالافتاء مؤسس مولوي عبدالهادي حماد لخوا په( ۱۳۹۴ل) کال خپلي خپروني شروع کړې .

د تعلیم القران راډیو ټولي خپروني هم ديني موضوعګانو ته ځانګړي سوي دي .

دیادي راډیو د نشراتو مسؤل عتیق الله مغفر نومیږي

د تعلیم القران راډیو خپروني سهار پر ۷ بجي شروع کیږي، د شپي تر ۱۱ بجو پوري دوام کوي .

فریکونسي: ۹۲/۹ اف ام

د اړیکو شمیره : ۰۷۰۰۳۰۸۹۲۹

**۹ – اسلام ږغ راډیو**

اسلام ږغ راډیو د کندهار د علماوو شورریاست لخوا په( ۲۰۰۵م) کال خپلي خپروني پیل کړې .

دا راډیو تر ډېره ديني او تبلیغاتي موضوعات خپروي .

د اسلام ږغ راډیو خپروني د سهار له ۷ بجو څخه بیا د شپي تر ۷ بجو پوري دوام کوي .

فریکونسي: ۵ / ۸۷
د اړیکي شمېره: ۰۷۰۰۰۲٤٦٢٦

**۱۰ – قران ږغ راډیو**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

قران ږغ راډیو په( ۱۳۹۴ل) کال د لیندۍ میاشتي پر ۱۷مه نېټه نشرات شروع کړل .

قران ږغ راډیو هره ورځ د سهار له ۷ بجو څخه بیا د شپې تر ۱۰ بجو پوري نشرات لري .

ددې راډیو د امتیاز څښتن عبدالسلام کاکړ او مسؤل مدیر یې مولوي کریمي دئ.

د دې راډیو هم ټولي خپروني دیني مؤضوعاګانو ته ځانګړي سوي دي .

فریکونسي: ۳ / ۹۰ اف ام

د اړیکي شمېره : ۰۷۰۰۳۰۰۱۷۰

### ۱۱ – تدریس القران

تدریس القران ولسي اسلامي راډیو د ( ۱۳۹۷ل) کال د مرغومي میاشتي پر ۲۶ تاریخ خپلي خپروني په سپین بولدک ولسوالۍ کي پیل کړي دي .

یاده راډیو د سهار له ۶ بجو څخه د شپې تر ۱۰ بجو پوري بیلا بیلي اسلامي خپروني یوازي د سپین بولدک ولسوالی لپاره وړاندي کوي .

ددې راډیو د امتیاز څښتن عبدالولي راشد او مسؤل مدیر یې محمد عیسی مستغفر دئ .

فریکونسی : ۸۹،۳ اف ام

د اړیکي شمېره : ۰۷۰۰۲۸۲۵۹۸

### ۱۲ – تبسم راډیو

تبسم په کندهارکي شخصي راډیو ده.

دغي راډیو د ۱۳۹۵ل کال دلړم میاشتي پر ۱۹نېټه خپل نشرات شروع کړل .

تبسم راډیو هم ټولنیزې، سیاسي او تفریحي خپروني لري، نشرات یې د سهار له ۷ بجو څخه بیا د شپې تر ۱۰ بجو دوام کوي.

اوس ددې راډیو د امتیاز څښتن صدیق الله افغان او مسؤل مدیر یې امیدسمسور دی .

فریکونسي: ۲ / ۹۱ اف ام
د اړیکي شمېره: ۰۷۰۸۳۶۲۳۶۳

### ۱۳ – ملت ږغ

دې راډیو د ۱۳۹۵ل کال د زمري میاشتي له ۱۷مي نېټي راهیسي په کندهارکي د رحمت الله وصال په مسؤل مدیریت او امتیاز د (زېور) راډیو په نامه خپروني شروع کړې .

د ۲۰۲۰ کال د پنځمي میاشتي له لومړۍ نېټي څخه یې مسؤلین نوي او د ( ملت ږغ ) راډیو په نامه یې خپرونو ته دوام ورکړ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یاده راډیو پر ټولنیزو او سیاسي خپرونو سربیره تفریح خپروني هم لري .

نشرات یې د سهار له ۷ بجو پیل او د شپې تر ۱۱ بجو دوام کوي.

اوس یې عمومي مسؤل بسم الله وطندوست دی .

فریکونسي: ۹۲/۶ اف ام
د اړیکي شمېره: ۰۷۰۰۰۰۲۳۶۴

### ۱۴ ــ روبنا راډیو

روبنا په ۱۳۹۵ل کال د غبرګولي میاشتي پر دوهمه نېټه د حمیدالله ذکي په مسؤل مدیریت او امتیاز په کندهاربنارکي نشرات شروع کړل .

روبنا راډیو تر ډېره تفریحي او یوه اندازه ټولنیزي خپروني او ساعت واره خبرونه هم لري .

یاده راډیو د سهار له ۸ بجو څخه د شپې تر نهو بجو پوري نشرات لري .

اوس یې عمومي مسؤل شېراحمد احمدي دئ .

فریکونسي: ۱/ ۹۶ اف ام
د ټلیفون شمېره ۰۷۰۷۰۰۸۱۸۳

### ۱۵ ــ سماء میوند

سما میوند راډیو د ۱۳۹۴ل کال د وري میاشتي پر ۷ نېټه خپل نشرات په کندهاربنارکي پیل کړل .

ددې راډیو اکثره خپروني تفریحي، ټولنیزي، ادبي او سیاسي بڼه لري .

سماء میوند راډیو هرساعت لنډخبرونه هم خپروي .

د سماء میوند خپروني سهار له ۷ بجو څخه بیا د شپې تر ۱۰ بجو پوري دوام کوي .

سیداحمد سالار یې د امتیازښتن او وارث عمران یې د نشراتو مسؤل دی .

فریکونسي : ۹۱/۵ اف ام

د اړیکي شمېره : ۰۷۰۰۹۵۹۵۹۹

### ۱۶ -نوې نړی

نوي نړۍ راډیو په ۱۳۹۷ل کال د غبرګولي میاشتي پر۶مه نېټه فعالیت پیل کړ

ددې راډیو اکثره خپروني تفریحي او ځیني خپروني یې ټولنیز رنګ لري .

نوې نړۍ د سهار له ۸ بجو څخه بیا د شپې تر نهو بجو پوري نشرات لري .

سید سرور رسولي یې د امتیاز څښتن او مسؤل مدیر دی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

فریکونسي:  ۳/ ۹۲ اف ام

د اړیکي شمېره : ۰۷۰۰۳۴۳۲۹۸

### ۱۷ ــ زما راډیو

زما راډیو په۲۰۱۵م کال د دوهمي میاشتي پر ۲۵مه نېټه په کندهارکي دیوتن ملي سوداګر حاجي عتیق الله په امتیاز خپروني پیل کړې .

دغه راډیو په (۲۰۱۹م) کال د کندهار ملي رادیوټلویزیون امر نورالله نوري رانیول اوس یې ښاغلی نوري د امتیاز څښتن او میراجان همدم یې د نشراتو مسؤل دی .

زماراډیو ټولنیزې، سیاسي او تفریحي خپروني لري .

نشرات یې د سهار له ۷ بجو پیل کېږي او د شپې تر ۱۲ بجو دوام کوي.

فریکونسي: ۱/ ۸۹ اف ام

د اړیکي شمېره: ۰۷۰۰۳۰۹۱۲۷

### ۱۸ ــ پوهنتون ږغ

یادي راډیو  د کندهار پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي  تر چتر لاندي د رسنیو په مرکز کي سږکال ( ۱۳۹۹) د زمري په ۲۸مه نېټه نشرات پیل کړل .

ددې راډیو د امتیاز څښتن  کندهار پوهنتون او  مسؤل مدیر یې رحمت الله حقمل دئ .

اوس دغه راډیو یوازي د  سهار  ( ۹ ــ ۱۲ ) بجو خپروني لري

پوهنتون ږغ راډیو    اوسمهال ټولي ثبتي علمي خپروني وړاندي کوي .

فریکونسي : ۹۲ اف ام

د اړیکي شمېره : ۰۷۰۰۳۴۳۹۰۵

درنو لوستونکو!

د یادو راډیوګانو او ټلویزیونونو ترڅنګ یوشمیر نوري راډیوګاني او ټلویزیونونه هم سته، چي مرکزونه یې له کندهارڅخه دباندي دي، خو په کندهارکي یې خپروني رڼي اورېدل او لیدل کېږي .

الف ــ هغه نړۍ والي راډیوګاني، چي په کندهارکي یې هم خپروني پر اف ام میګاهرتز فریکونسي هم اورېدل کېږي

(بي بي سي، ازادی، امریکا ږغ، چین)

ب ــ هغه کابل میشتي راډیوګاني، چي په کندهارکي یې هم خپروني  پر اف ام میګاهرتزفریکونسي وړاندي کېږي

(ارمان اف ام، اراکوزیا، شمشاد، اریانا، ځوانان، بیان.)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ج – هغه کابل میشتي ټلویزونونه، چي په کندهار کي يي خپروني په عادي انتن رني ليدل کيږي: ( ملي ټلويزيون، لمر،طلوع، طلوع نيوز، اريانا، اريانا نيوز، شمشاد، يک، تمدن، نور،خورشيد او نورين)

کېبلي شبکي

په کندهارښارکي د ټلويزيوني، راډيويي او چاپي مطبوعاتو په څنګ کي دري کېبلي څانګي د ( اتل ملت، انسټا او عينو) په نومونو هم فعاليت کوي .

دغه کيبلي شبکي د کندهار ښار په بيلا بيلو ناحيو کي نژدې ۱۰۰۰ تنه مشترکين لري .

ياده هره کيبلي څانګه تر ۵۰ زيات بيلا بيل بهرني او کورني ټلويزوني چيلونه ريلى کوي

دغه څانګي هم د اطلاعاتو اوفرهنګ وزارت لخوا رسمي خپرنيز جواز لري .

## پروډکشنونه

پروډکشنونه هم نشراتي ارګانونه دي او له دې لاري پر مستندو فلمونوسربېره تصويري خپروني، اعلانونه، د فلمونو ژباړي، دوبله ، سندريز او تفريحي پروګرامونه جوړوي .

اوس په اطلاعات او فرهنګ رياست کي نهه پروډکشنونه په دې نومونو

( سهار، همراز،هيواد، کندهار، پلار، ميوند، دنيا او مشعل) ثبت دي

يادو پروډکشنونو په کندهارکي هيواد ټلويزيون او کندهار ملي ټلويزيون ته پر لسهاوو اوونيزوخپرونو سربېره تر سلو زيات هندي او انګريزي فلمونه او ډرامي ترجمه او دوبله کړي دي .

همدارنګه د دغو پروډکشنونو لخوا ځيني مستند فلمونه او په لسهاوو ستيج ډرامي هم په لوی کندهار کي وړاندي سوي دي .

د کندهارمېشتو پروډکشنونو په زيار د ګوتو په شمېر،يوڅو ټلويزيوني سريالونه هم چمتو سوي دي .

اوسمهال يوازي درې پروډکشنونه فعال اود نورو دروازې د اقتصادي ستونزو له امله يومخ تړلي دي .

هغه کندهاري چاپي مطبوعات، چي اوس نه خپرېږي

هغه چاپي مطبوعات(ورځپاني، اوونيزي، جريدې، مهالنۍ او نور ...) چي د ولسمشر حامد کرزي د واکمنی په بېلا بېلو کلونوکي يي په کندهار کي فعاليت درلود، خو د۲۰۱۴م کال راهيسي په تدريج سره د مالي ستونزو له امله يومخ له چاپه لوېدلي دي،چي موږ يي په لاندي ډول يوازي د نومونو په يادولو بسنه کوو .

ښکلا، اسلامي ډېوه، زر وړانګه، تنده، ودان، ګرداب، سورغر، هڅه، عينو، اسلامي ژوند، نورالهدا، رڼا، هوډ، روغ رمټ، نداء القران، سهار، پيام نور، پنجوايي، مروند،ميوند، ماشوم ږغ، روهي بهير، خوځښت، پښتنه، غاټول، لمر ځرک، ښوونځی، اسلامي لارښوونه، روحاني، بريا، درملنه، انار، روغتيا، سپوږمی، ځوانان، د ولس خدمت، کاريز او رښتيا .

۱۳۹۹ / زمری / ۸
کندهار ښار، چونی

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ماخذونه

١ – زما شخصي يادابښتونه

٢ -د کندهاراطلاعاتو فرهنګ رياست ،د اطلاعاتو امريت د ١٣٩٩ل کال د رسنيو دوسيه

٣ – د طلوع افغان اخبار بيلا بيل کليکسيونونه

۴ -پښتو خپروني لومړی ټوک، لومړی چاپ ، استادحبيب الله رفيع، د چاپ کال ١٣۵۶ل

۵ -د افغانستان تاريخ او خپروني ، محمد حليم تنوير ژباړه زبير شفيقي، د چاپ کال ١٣٨٠ل

۶ -پژواک خبري اژانس

٧ – دکندهار پښتو مجله ، د عبدالباري جهاني مقاله ، افغان سباوون ويبپاڼه

٨ – د استاد ياد ، د لوی استاد علامه حبيبي په اړه د مقالو ټولګه د چاپ کال ١٣۶۴ل

٩ – ژوري خبري،ميزاعالم حميدي، د چاپ کال ١٣٧۵ل



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ